آریانا افغانستان آنلاین
ملی، سیاسی او ادبی ویب پاڼه
http://www.arianafghanistan.com

پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۲۲/۰٤/۲٤

# دغویی پینځمه ( داپریل ۲۵مه) د مطبوعاتو ورځ



د آلمانی یوهانس گوتنبرگ (۱۴۶۸-۱۳۹۸م.) له خوا دچاپ د ماشین اختراع، یو لوی فرهنگی انقلاب و چې د خلکو پر ژوندیی ډیر ژور اغیز وکړ. البته ترده ۴۰۰کاله مخکې په چین او بیا کوریا کې د چاپ د ساده تنخیک لپاره هڅې شوی وې، خو گوتنبرگ د چاپ وسیله یوه نوی پړاو ته ورسوله. په چین کې داسی پاڼې وموندل شوی چې په ۸۶۸م. کال کې طبع شوې وی. دگوتنبرگ ماشین پیچلی او له ستونزو ډک و، توري یې بی سایزه او کلکول یی سخت کارو، خو بیا هم دچاپ په صنعت کی یو پرمختللی گام و. ده دلومړی ځل لپاره یو دغه کتاب د انجیل د کتاب څو پاڼې طبع کړې.

سره له دې چې پخوا د مطبوعاتو کلمه زیاتره د طبع او نشرصنعت ته استعمالیده، خو اوسنی وخت کی میډیا، رسنیو او دې ته ورته اصطلاحاتو دهغی ځای نیولی دی چې مفهوم یی ډیر پراخ دی. نن ورځ موږ د دیجتل چاپ او ورسره د بریښنایی طبع او نشر عصری تکنالوژي لرو.

د کتاب اومطبوعاتو د ځانګړی اهمیت له مخې اود اطلاعاتي - تنویری، فرهنگی او نورو ژورو تاثیراتو له امله مطبوعاتو ته یوه نړیواله ورځ وټاکل شوه. دغه ورځ هرکال بیلابیلو هیوادو کې؛ له هغې جملې د یونسکو له خوا لمانځل کیږی. ملتونو ته د مطبوعاتو د ارزښت ښودلو په موخه؛ په یو هیواد کې مطبوعاتو ته د نورو دریو عناصرو (حکومت، پارلمان او قضا) ترڅنګ د څلورم رکن حیثیت ورکړ شو.

کتاب اومطبوعاتوته، د اذهانو تنویر، فکري تولید ، د هنرمندانو د ایجادیاتد دانعکاس، دنوښتگرو تخلیقاتو او دپوهانو او استادانو د علمی آثارو د خپرولو مسئولیت ورپه غاړه دی. دا ټول د پوهی صنعت هغه ارزښتمن آثار دی چې هغه له ذهني حالت څخه عیني حالت ته رااوښتی وی . دچاپ صنعت اوتولید هغه بشریت ته گټور ، ابتکاري او خپل ارزښت لرونکی صنعت دي چې د لاربښوونکی - ژورتفکر او معنوي ارزښتونو په توگه د ورځپاڼو، اخبار، کتابونو، مجلو او نور بنو باندې خلکو ته وړاندې کیږي .


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

### د چاپ او طبع کولو د صنعت یوه لومړنۍ بیلګه

له نیکه په افغانستان کې د سراج الاخبار او شمس النهار د تاسیس له وخته تراوسه؛ د مطبوعاتو له برکته زموږ خلک هم د نړۍ له نویو پرمختګونو څخه خبر شول، خو دکتاب تذهیب او طباعت له تردې ډیر مخکې موجود و. په تیره بیا؛ له تیرو شلو کلونو رادیخوا ځوانان وهڅیدل او ګوتې یې قلم ته وروړې، لیکلو ته یې پام وکړ او مطبوعاتي هڅې ګړندۍ شوی دی. یو شمیر نوښتګر ځوانان په انټرنیټي پانو، چاپي رسنیو او نورو عامه رسنیو کې نوی کتابونه ګوري او نوي فکرونه بیانوی ، چې په هیواد کې د وینیتیا او مثبت بدلون نښه بلل کیدای شي.د دوی په هڅو او هاند مدنی خوځښت ګړندی شو او د هرې اداري او ارګان خپروني را میدان ته شوی. دکتاب دچاپ وطبع صنعت، دپوهې او معنوي شتمنې د ودې ، غنا او کیفي بهبود لامل کیږي . مطبوعات په ټولنه کی د ترقی، کیفی او کمی تحول او فرهنګی تعالی ستن او قوت دی. سره له دې چې دمطبوعاتو لمن ډیره نده خپره، لاهم ډیر خلک تیاره او د اوهامو لومو کې بند دي، خو موږ هیله لرو چې زموږ ځوانان د فکری مالکیت لرونکی شي او د کتاب او مطبوعاتو د ورځې په ویاړ په دغې موضوع فکر او ور باندې بحث وکړو.



ډیر پخوا د فکري او علمي – فرهنګي آثارو خپرول ډیر محدود و او پخوا وختونو کې د هغو ایجادوونکو او مؤلفینو له خپلو آثارو څخه د کومې مادي ګټې هیله نه لرله . په هغو وختونو کې د هغو کوم قانوني ملاتړ هم نه و موجود او چا د "*Intellectual property* " یعني معنوي شتمني او "*Intellectual property rights*" په نوم څه نه پیژندل، خو نن ورځ د هغو قانوني ملاتړ کیږي او دا ټول د اکاډمیکو مقرراتو ، لوایحو او طرزالعملونو په اساس رامنځته شوي دي، بازار لري ، مالکیت (مال) ګڼل کیږي ، لږ وخت کې نورو هېوادونو ته خپریږي او د بشریت په خدمت کې واقع کیږي.

مطبوعاتی آثار د متفکرو او تخصص لرونکو افرادو هغه ایجادیات ، د کار حاصل او تخلیقات دي چې د خپلي کسبي پوهې، څیړنې او خلاقانه تفکر په اثر یې رامنځته کړی وي.

ددغو فکری ملیکتونو خاوند د خپلو اثارو د ملکیت حق لری، چې دی ته ( copy right) ویل کیږی. له دې امله چې دغه ډول پوهه او صنعت ته ضرورت دی او د بشري ژوند په ګټه دی ، نو ځکه یې مالک او ایجادګر ته یو شمیر حقوق ورکړل شوي دي لکه د طبع او نشر حق ، بل چاته یې د تفویض کولو حق او داسې نور ، نو له دې امله چې حق هغه اقتدار دی چې قانون یې وګړو ته ورښيي.

په افغانستان کې دکتاب د خطاطی،تذهیب او طبع په دوام؛ معاصر مطبوعات د شمس النهار، سراج الاخبار، امان افغان او دې ته ورته نشراتو څخه پیل او بیا دوهم پړاو کې داعلیحضرت محمد ظاهر شاه دوره کې نوي پړاو ته داخل شول، په تیره بیا د لومړنی روښانه او ځلنده لس کلنې دیموکراسی دوره اوبیا دتیری لمریزی پیری له څلویښتمو کلونو د شپیتمو کلونوتر پای پوری(۱۳۷۰-۱۳۴۳ش.) د مطبوعاتو د ترقی ښه بیلګه ده. د دې بهیر لومړي پړاوکي د مشروطه غوښتونکو او دوهم پړاو کې یې د ویښ زلمیانو رول رغنده او مخکښ و. دغه دواړه دورې په هیواد کې دمطابعو او نشراتو د نشر ځلانده دورې وی.

له کتاب او مطبوعاتو سره دټولنی باسواده اومنور قشرسروکار لري. دمطبوعاتو د مادي اړخ په پرتله د هغو معنوي ارزښت ډیر اوچت دی . په یوه ټولنه کی هغه استعدادونه او کادرونه چې طباعتی ارزښتونه رامنځته کوي د" *Scientific Elites*" یا علمي نخبګانو په نوم نومول شوي دي. مولفین، لیکوالان اوڅیړونکي هغه بې تبعیضه د فکري خلاق ثمر لرونکی خلک دي چې د کار ، کسب ، سیاست او اداري د نخبه ګانو په پرتله یې د خدمت او فعالیت ارزښت اوچت دی او معمولاً د پوهې اونوی فکر خپروونکی ګڼل کیږی، چې د دوی د تولید او خلاقیت آثار د ټولنو د نن او سبا ورځې په نیکمرغي کې ټاکونکی رول لري . په دی وروستیو کې موږ د اوږدې مودې جګړې له امله د دغه ډول نخبه ګانو له کمښت سره مخامخ شوي یو او یا هم دوی په کاري چاپیر یال کې له ستونزو سره مخامخ دي او که ډیر لږ


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

شته هم په لازم دريځ کې نه دي ، حال دا چې په نخبه سالاري " *Elitism* "کې د علم ، پوهې ، اداري ، سياست اقتصاد او نورو ګټورو برخو معنوي کادرونه او د نوی فکر لرونکی او مستعدودماغونو لرونکودريځ او چت وي. په نخبه سالاری نظامونو کې د دغې خلاقانه او علمي ځواک آزادي او حقوق ډير اوچت، خوندي او ډاډمن دی او استقلاليت يې تأمين دی، خو په دې وروستيو کې دچاپ او نشر د بازار سوړوالی موږ ته دمايوسی او خپګان لامل شو .

مطبوعات په ټولنه کې د پوهې د خپرولو او بشريت ته د معنوي خدمت مهم وسايل دي . دا دتکنالوژي په برخه کې د پوهانو د مفکورې عملي لاره ده.

مطبوعات او فرهنګي او معنوي حقوقی آزادي په مدني آزاديو کې شمېرل کيږي ، چې دا په خپله او چت ارزښت لري چې د يوې ديموکراتيکې ټولنې د خوځنده ژوند يوه برخه ده . له نېکه مرغه د علمي او اکاډميکو آثارو د رامنځته کېدو آزادي د رنسانس له دورې څخه راوروسته تقريباً په هر ډول سياسي نظامونو کې وه ، آن دا چې تر ټولو دکتاتورو نظامونوکې، چې هلته سياسي آزادي ته اجازه نه وه ، هم ورته اجازه ورکړشو ی وه . دا شرط نه ده چې هر فکري توليد دې په بشپړه توګه نوی وي ، دا ځکه چې هر فکري توليد خامخا له پخوانيو علمي ميراثونو سره تړاو لري ، يعنې نوښت يکې نسبي بڼه لري .

د بيلابيلو ټولنو او هيوادونو د صنعت او پوهې په پراختيا او د هېوادونو تر منځ د هغو د تبادلې په برخه کې د يونسکو سازمان ځانګړی دريځ لري ، دا نه يوازې پرمختللو هېوادو کې ، بلکې د آسيا ، افريقا او لاتيني امريکا د هېوادونو علمي مرکزونو ته يې هم پاملرنه کړی ده چې افغانستان يې په ۱۹۴۸ م. کال کې غړيتوب ترلاسه کړی دی، علمي څيړنو ښودلې ده چې تر اوسه پورې په سلو کې ۹۵ د پوهې او صنعت بازار د نړی په سلو کې ۳۰ هېوادونو پورې اړه لري ، حال دا چې وروسته پاتي هېوادونه په دې برخه کې لږ ونډه لري. پرمختللي صنعتي هېوادونه لکه د امريکې متحده آيالات ، انګلستان ، روسيه ، جاپان ، او يو شمېر نور د خپلې ملي بودجې په سلو کې ۶۰ څخه زياته برخه علمي څېړنې او دصنعت او پوهې توليد ته وقف کوي، حال دا چې زمونږ په شان وروسته پاتي هېوادونه دې برخه کې له بشپړې بيوزلی سره مخامخ دي. بايد صادقانه اعتراف وشي چې په افغانستان کې ځينې وخت د ذات البيني تضادونو ، سياسی ملحوظاتو اوشخصي کينې او نورو لاملونو له کبله ځينی وخت مثبت نوی او رغنده فکر، په مطبوعاتو کې مترقی طرحې او يا هم علمی مفيد تصنيف ځينو ستونزو سره مخامخ کيږي او د تشويق پرځای خنډونه ورته جوړيږي . حال دا چې دا ډول عمل زموږ په نوی فکر او معنوی توليدی پروسه باندې بده اغېزه کوي، خوډيره ضروری ده چې ملی او اسلامی ارزښتونه وپالل شي، منحرف او ملی وفاق ته زيان اړوونکی، دپرديو د ګټو ساتونکی او مبتذل نشرات اومطبوعات ډير ژر اصلاح او مخنيوی يې وشي،دکاپی رايت د حق درناوی دې وشی، د تقليد مخنيوی او د نوښت هڅونه ، نوی فکر ته لاره هواروي، دې ټکی ته د ټولو پاملرنه حتمی ده، ځوانان بايد مطبوعاتو کې ګډون او مطالعی ته وهڅول شی، دکتاب لوستول دود دې ترويج شي. دمطبوعاتو پلوشې بايد له ښارونو څخه تر کليو پورې خپرې شی او هيڅوک له مطبوعاتو څخه د استفادې له حق څخه محروم پاتې نشي.



برای مطالب دیگر پوهاند محمد بشیر دودیال روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com